

د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود

# د مدني ټولنې فضاء او
# د ملګرو ملتونو
# د بشري حقونو سیستم

د ملګرو ملتونو
د بشري حقونو
د عالي کمشنر دفتر

ملګري ملتونه

# فهرست مطالب


1. د دې لارښود په اړه ........................................................ 1

2. 2. د مدني ټولنې غړي او دمدني ټولنې فضاء ......................................... 3

1.2 د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو سیستم- لنډه کتنه ....................... 5

3. د مدني ټولنې د ازاد او خپلواک کار لپاره شرایط ................................ 7

1.3 مساعده سیاسي او ټولنیز چاپیریال .................................. 7

2.3 ملاتړ کونکي تنظیمي چوکاټ ............................................. 8

3.3 د معلوماتو ازادانه جریان .................................................. 9

4.3 اوږد مهاله ملاتړ او سرچینې ............................................. 9

3.5 د ډیالوګ او همکارۍ لپاره ګډې ساحې ..................................... 9

4. هغه ننګو نې چې د مدني ټولنې غړي ورسره مخ شوي دي ......................... 14

1.4 قانوني یا هم مقرراتي تدابیر چې د مدني ټولنې د کار ممانعت کوي .... 14

2.4 ناقانونه/پخپل سر اقدامونه ................................................ 15

3.4 نا قانونه ځورونه، ارعاب او غچ اخیستنې ................................ 16

5. زه څه کولای شم؟ ملګرو ملتونو ته مراجعه ............................................ 21

6. د سندونو ماخذونه ............................................................... 28

7. زموږ سره اړیکی ..................................................................... 29


"دمدني ټولنې د فعالینو ارادې او ریښتینولۍ ماته ،او غالبآ تاسو ته، د تواضع او یو ستر یوړ احساس راکوي چې زموږ په غاړه دی، او موږ ته یو قوي اراده راکوي چې د ټولو انسانانو د کرامت او برابرو حقوقو د تامینولو لپاره خپل کار ته دوام ورکړو."

زید رعدالحسین
د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو عالي کمیشنر
اکتوبر، 2014



## 1. د دې لارښود په اړه

د بیان ازادۍ، د انجمنونو او سوله ییزو غونډو جوړول او په عامه چارو کې د ګډون ازادۍ هغه بشري حقونو دي چې خلکو ته د دې فرصت ورکوي څو هغوي خپلې مفکورې سره شریکې کړي، نوې مفکورې جوړې او یو له بل سره په ګډه د خپلو حقونو غوښته وکړي. د دغو عامه آزادیو له برکته ده چې موږ د معلوماتو په رڼا کې د خپلې اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا پریکړې وکړو. د همدغو حقونو د لارې ده چې موږ کولای شو په مدني فعالیتونو کې ونډه ولرو او ډموکراټیکې ټولنې جوړې کړو. که چېرې هغه محدودې شي نو دې سره زموږ ټولنیز پرمختګ په ټپه دریږي.

دغه لارښود د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر د بشري حقونو د عملي لارښودونو شپږمه لړۍ ده او باید د «ډموکراتیکې فضاء د پراختیا» په زمینه کې چې د دغه دفتر د اوسنیو موضوعاتي لومړیتوبونو څخه دی، ورته وکتل شي.

دغه لارښود د مدني ټولنې د فعالینو په کار پورې تړاو لري. دا د « مدني ټولنه» او « د مدني ټولنې فضاء» له کاري اصطلاحاتو د تعریف څخه پیل کیږي، بیا وروسته د هغو شرایطو او چاپیریال

عمومي کتنه وړاندې کوي چې د یوې ازادۍ او خپلواکۍ مدني ټولنې لپاره چې په کې د بیان ازادۍ، د انجمنونو او سوله ییزو غونډو جوړولو او په عامه چارو کې د ګډون ازادۍ د حق لپاره د بشري حقونو اړونده نړیوال معیارونه شامل وي .

په دغه لارښود کې ځینې هغه بیلګې شاملې دي چې دولت او مدني ټولنې څنګه کولای شي چې سره یوځای د مدني ټولنې لپاره داسې فضاء جوړه کړي او په کې هغه خپل کار ته په داسې ډول دوام ورکړي چې له مخې یې د دې زمینه برابره او چارې پر مخ ولاړې شي چې په کې هر یو د خپلو ټولو بشري حقونو ( مدني،فرهنګي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو) څخه برخمن و اوسي. د مدني ټولنې د کار په وړاندې خنډونه او محدودیتونه تشخیص شوي دي چې په کې د مدني ټولنې د غړو په وړاندې ځورونې، ارعاب / تهدید او غچ اخیستنې شاملې دي. دغه لارښود د مدني ټولنې فعالین دې ته رابولي چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د سیستم څخه د دې لپاره کار واخلي چې په کې په محلي کچه د مدني ټولنې لپاره فضاء وده ولري او دهغې ساتنه وشي.

د ماخذونو او د اړیکو تفصیلات د دې لارښود په پای کې راغلي دي.

د دې لارښود موخه په لومړي سر کې دا ده چې د مدني ټولنې د هغو فعالینو سره مرسته وشي څوک چې لا هم د ملګر و ملتونو د بشري حقونو د سیستم سره بلد نه دي. د دې په ترتیبولو کې تر ټولو د مخه د مدني ټولنې د بیلابیلو غړو د ونډې او سپارښتنو څخه ګټه پورته شوې ده.

## 2. د مدني ټولنې غړي او دمدني ټولنې فضاء

« که چېرې رهبران خپلو خلکو ته غوږ شي، نو هغوي به د دوي څخه واوري- په کوڅو، میدانونو، یا لکه چې موږ یې اکثره وینو د جګړو په ډګرونو کې. دلته یوه ښه لار شته. هغه ډیر ګډون دی. ډیره ډموکراسي ده. ډیره ښکیلتا او علنیت دی. داپه دې مانا چې د مدني ټولنې لپاره ډیره فضاء وي.»

د مدني ټولنې په ملاتړ کې د لوړې کچې غونډې ته
د ملګرو ملتونو د سرمنشي بان کي مون د وینا څخه
د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر ۲۳

دغه لار ښود د مدني ټولنې غړي د هغو افرادو او ډلو په توګه پېژني څوک چې په رضاکارانه او عامه توګه د ګډو ګټو، موخو او ارزښتونو لپاره ونډه اخلي او فعالیت کوي چې هغه د ملګرو ملتونو د هدفونو سره په سمون کې وي: د سولې او امنیت ساتنه، د پرمختیا عملي کول، او دبشري حقونو وده او درناوی.

زموږ د ژوند د ښه کولو لپاره د ملګرو ملتونو کار د بشري حقونو د درناوي څخه منشاء اخلي. او یا هم په ښکاره او یا ناڅرګند ډول د دوي د کار د متن او ماهیت له امله د مدني ټولنې فعالان لکه چې پورته تعریف شوه د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره هڅه کوي.

د مدني ټولنې د غړو د حقونو په اړه پوهاوي ته وده ورکوي، د ټولنو سره د هغوي د اندیښنو په بیانولو کې مرسته کوي، ستراتیژۍ ګاني ترتیبوي، په پالیسو او قوانینو اغیز لري، او د حساب ورکونې لپاره فشار راوړي. د مدني ټولنې غړي د ټولنو نظریاتو ته لوري ورکوي څو چې د عامه پالیسیو په اړه د پریکړو نیولو په اړه بشپړه معلومات ورسره وي. د مدني ټولنې فعالان همدارنګه د هغو کسانو لپاره خدمات برابروي څوک چې په مختلفو برخو کې د خطر سره مخ او زیانمنونکي دي.

« **هر څوک په منفردانه او یا هم د نورو سره په ټولنه کې** د دې حق لري چې په ملي او نړیواله کچه د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د ودې، ساتنې او عملي کولو لپاره هڅې وکړي .» ( لومړۍ ماده په دې تاکید کوي).

د نړیوالو منل شوو بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د ودې او ساتنې لپاره د ټولنې د افرادو، ډلو او ارګانونو د حقوقو او وجایبو په اړه اعلامیه، ( د عمومي اسامبلې پریکړه لیک ۵۳/۱۴۴) ، چې په عمومي توګه د بشري حقونو د مدافعانو په اړه اعلامیې ته راجع کیږي.

د بیلګې په توګه د مدني ټولنې په غړو کې لاندې کسان شامل دي:[1]

[1] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرام سره کار کول ، د مدني ټولنې لپاره د لارښود کتابګوټې، د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر، p.vii.2008

- د بشري حقونو مدافعان، د انلاین فعالانو په شمول؛
- د بشري حقونو سازمانونه( غیر دولتي موسسې، انجمنونه، د قربانیانو د ملاتړ ډلې)؛
- ایتلافونه او شبکې ( د بیلګې په توګه د ښځو د حقونو لپاره، د ماشومانو د حقونو او یا هم د چاپیریالي موضوعاتو، د ځمکې د حقونو، دهمجنسګرایانو او دوه جنسه وګړو د حقونو، اونورو لپاره)؛
- هغه کسان چې معیوبیتونه لري او هغه موسسې چې د دوي استازیتوب کوي؛
- ټولنیزې ډلې ( بومي وګړي، اقلیتونه، کلیوالي ټولنې)؛
- عقیدوي ډلې ( کلیساګانې، دیني ډلې)؛
- اتحادیې( کارګري اتحادیې او همدارنګه حرفوي انجمنونه، لکه د ژورنالستانو اتحادیې، د قاضیانو او حقوق دانانو او مدافعو وکیلانو ټولنې، د منځګړتیا د قاضیانو ټولنې، د زده کوونکو اتحادیې)؛
- ټولنیز خوځښتونه ( د سولې خوځښتونه، د زده کوونکو خوځښتونه، ډموکراسي پلوه خوځښتونه)؛
- هغه حرفوي کسان څوک چې په مستقیم ډول د بشري حقونو څخه برخمن کیږي( د بیلګې په توګه د بشر پالنې د برخې کار کوونکي، قانون پوهان، ډاکټران او طبي کار کوونکي)؛
- د بشري حقونو د سرغړونو د قربانیانو خپلوان او ټولنې؛ او
- عامه دولتي موسسې چې د بشري حقونو د ودې په موخه فعالیتونه ترسره کوي( ښوونځي، پوهنتونونه، څیړنیز مرکزونه).

د مدني ټولنې غړي د هغو ستونزو حل او موضوعاتو ته د رسیدګۍ لپاره فعال دي او هڅې کوي چې د ټولنې لپاره اهمیت لري، لکه:

- د بې وزلۍ، فساد او اقتصادي نا انډولۍ سره مبارزه
- د وسله والو جګړو په شمول د بشر پالنې بحرانونو ته غبرګون
- د قانون د حاکمیت او حساب ورکونې وده
- د عامه ازادیو وده
- د حکومتي بودجو د روڼوالي په موخه مدافعه
- د چاپیریال ساتنه
- د پرمختیا یې حق عملي کول
- د لږکیو او نورو د خطر لاندې ډلو سره د تعلق لرونکو کسانو ځواکمنول
- د تبعیض د هر شکل سره مبارزه
- د جرم د مخنیوي لپاره ملاتړ
- د مشارکتي ټولنیز مکلفیت او حساب ورکونې وده
- د انسانانو د قاچاق مخنیوی
- د ښځو ځواکمنول

- د نفرت پاروونو سره مبارزه
- د ځوانانو ځواکمنول
- د ټولنیز عدالت او مستهلکینو د ساتنې په لار کې پرمختګ
- د ټولنیزو خدماتو رسول

د مدني ټولنې غړي په ټولو کچو کې فعالیت کوي: محلي، ملي، سیمه ییزه او نړیواله

د مدني ټولنې فضاء د مدني ټولنې د فعالینو هغه مقام دی چې هغوی یې په ټولنه کې لري؛ هغه چاپیریال او چوکاټ چې په کې مدني ټولنه فعاله وي؛ او هغه اړیکي چې د مدني ټولنې د غړي تر منځ دي، دولت، خصوصي سکتور او عام ولس.

## 1.2 د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سیستم- لنډه کتنه

د سولې او امنیت د را وستلو او د دې په موخه کار کول چې په ټول هېواد کې پرمختیا عملي جنبه غوره، او د ټولو خلکو لپاره د بشري حقونو وده او ساتنه تامین شي دا د ملګرو ملتونو د کار د درې مهمواو اساسي برخو څخه یوه برخه ده. دا برخه د ملګرو ملتونو د منشور او نړیوالو بشري حقونو د قانون له مخې رامنځته شوې ده.

ملګري ملتونه هڅه کوي چې د درې اساسي لارو څخه بشري حقونو ته وده ورکړي او ساتنه یې وکړي:

1. دبشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ملګرو ملتونو کې هغه رهبري کوونکی سازمان دی چې د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره کار کوي. دغه دفتر د ملګرو ملتونو د اختصاصي موسسو ، وجهي صندوقونو او پروګرامونو (د بیلګې په ډول د روغتیا د نړیوال سازمان، د ملګروملتونو د کډوالو د چارو د اداره، یونیسیف، د کار د نړیوال سازمان، یونیسکو، اونورو) سره کار کوي څو په دې توګه د بشري حقونو لپاره د کار اغیزه لوړې کچې ته ورسوي.
2. د بشري حقونو نړیوال میثاقونه( تړونونه او کنوانسیونونه) د خپلواکو متخصصینو هیئتونه، یا د تړون له مخې ارګانونه جوړوي څو په منظم او متناوب ډول د هېوادونو له خوا د بشري حقونو د مکلفیتونو د تطبیق مسالو ته پام وکړي.
3. بین الدولتي ارګانونه، یا اسمبلي ګانې چې د ملګرو ملتونو د غړو دولتونو څخه متشکلې دي د بشري حقونو اړوندې ستونزې او حالات تر بحث لاندې نیسي. د دې هدف لپاره لومړنی بین الدولتي ارګان د بشري حقونو شورا ده چې د دغې شورا کار د خپلواکو متخصصینو له اړخه د ځانګړو طرزالعملونو او د یو میکانیزم د لارې چې ورته نړیواله دوره یي /نوبتي کتنه وایي او نورو په ترڅ کې ملاتړ کیږي.

دغه درې عناصر مستقل خو یو د بل متمم دي.

د دغو دندو او میکانیزمونو په اړه تفصیلي توضیحات کیدلای شي چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرامونو سره کار کول: د مدني ټولنې لارښود کتابګوټی ( ۶ برخه، ماخذونه وګورئ). دغه لارښود د ملګرو ملتونو په شپږو رسمي ژبو کې موجود دی، او د ډیجیټلي معلوماتي سیستم په سي ډي رام فارمت کې په فرانسوي او انګلیسي ژبو د هغو کسانو لپاره چې د بصري او چاپي موادو د لوستنې معیوبیتونه لري، د لاس رسي وړ دی.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دستګاه کار د مدني ټولنې د غړو د ګډون په ملاتړ سره مخې ته ځي. په نړیواله کچه مدني ټولنه د تخصص، د پوهاوي د لوړوالي، د بشري حقونو د مسالو او سرغړونو د څارنې او راپور ورکولو په لړ کې ونډه لري. د مدني ټولنې غړي د دې سره مرسته کوي څو چې د بشري حقونو نوي معیارونه، میکانیزمونه جوړ او موسسې رامنځته او د بشري حقونو د موضوعاتو لپاره سرچینې او عامه ملاتړ ته انسجام ورکړي.

### د مدني ټولنې په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا نوښتونه

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا د مدني ټولنې لپاره ګڼ شمیر پریکړه لیکونه چې د مدني ټولنې لپاره ځانګړي اهمیت لري تصویب کړي دي، لکه د بیان آزادي، د انجمن جوړونې او سوله ییزو غونډو ، ارعاب او غچ اخیستنې، او د بشري حقونو د مدافعانو په اړوند پریکړه لیکونه. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې دغې شورا د مدني ټولنې د نقش په اړه ۳۱/۲۷ او ۲۴/۲۱ پریکړه لیکونه تصویب کړي دي چې د «اداره کولو او ښې حکومتولۍ د ودې په بهیرونو کې په ټولو کچو کې د شفافیت او احتساب په شمول چې د سوله ییزو، غوړیدلو او ډموکراتیکو ټولنو دجوړولو لپاره اړین دي په ټولو برخو کې د مدني ټولنې د فعالانه ګډون زیات اهمیت»، په ډاګه کوي.

## 3. د مدني ټولنې د ازاد او خپلواک کار لپاره شرايط

« ازاده او خپلواکه مدني ټولنه د سالمې حکومتولۍ چې په محلي، ملي او نړيواله کچه مسووله وي خوب ويونکې ده.»

د بشري حقونو د شورا ۲۵مې غونډې ته
د ملګرو ملتونو د عمومي سر منشي بان کي مون ويديويي پيغام، د ۲۰۱۴ کال مارچ

د هېوادونو نړيوال حقوقي مکلفيتونه هغوي په دې مکلف کوي چې هغه اقتصادي، سياسي، ټولنيز، فرهنګي او حقوقي شرايط چې په مدني فعاليتونو کې د وګړو په انفرادي او ډله ييزه توګه د ګډون لپاره ځواکمني او ظرفيت ملاتړ کوي، تامين کړي.

د بشري حقونو هغه اصول چې د عامه مسوولينو او مدني ټولنې تر منځ اړيکي جوړوي، په لاندې ډول دي:

- ◄ **ګډون** – په ټولنه کې د مدني ټولنې نقش منل شوی دی او د مدني ټولنې غړي ازاد دي چې په خپلواک ډول عمل وکړي او د هغو دريځونو څخه پلوي وکړي چې د دولتي مقامونو سره توپير لري.
- ◄ **عدم تبعيض** – د ټولو مدني غړو څخه غوښتل کيږي او ورته دا امکان برابريږي چې پرته د هر ډول تبعيض څخه په عامه ژوند کې برخه واخلي.
- ◄ **کرامت**- دولتي مسوولين او د مدني ټولنې غړي که څه هم متفاوته نقش لري، د ژوند سطحې د لوړولو او سوکالۍ لپاره ګډ هدف لري. په دې لړ کې متقابل احترام اړين دی.
- ◄ **روښوالي او د حساب ورکول** – د عامه ګټو په لار کې اجراات د د دولتي مسوولينو له خوا د علنيت، مسووليت، وضاحت، روښوالي او حساب ورکونې غوښتنه کوي. په دې توګه دا هم د مدني ټولنې د فعالينو څخه د يوبل او د خلکو په وړاندې د شفافيت او حساب ورکونې تقاضا کوي.

هغه کليدي شرايط چې د ښه کار کردګۍ لپاره امکانات برابروي.[2]

[2] د بشري حقونو د مدافعينو د شرايطو په اړه د ځانګړي راپورتر راپور. د بشري حقونو د مدافعينو لپاره مصوونه او مساعد چاپيريال، A/HRC/25/55

## 1.3 مساعده سیاسي او ټولنیز چاپیریال

یو سیاسي او عمومي چاپیریال دی چې په هغه کې د مدني فعالیت هڅو څخه درناوی کیږي. په عمل کې نهادونه او د دولت مسوولین د مدني ټولنې د غړو سره په منظم تعامل کې د هغوي په وړاندې ځواب ویونکي دي.

**تونس** - مدني ټولنې د نوو قوانینو او پالیسیو چې د بشري حقونو او ډموکراسۍ لپاره لازمې دي په طرح کولو کې د ګډون د لارې د نوي تونس په جوړولو کې بنسټیز نقش لوبولی دی. د مدني ټولنې د سازمانونو سره د ډموکراتیک لیږد پر مهال د لومړنیو نوښتونو مشوره وشوه، لکه د فکر او عقیدې په تړاو د زندانیانو لپاره د عمومي عفوې فرمان او د څلورو نړیوالو میثاقونو سره د الحاق اړوند قوانین( د اجباري لادرک کیدنو څخه د ټولو کسانو د ساتنې نړیوال کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال تړون اختیاري پروتوکول، د شکنجې او ناوړه سلوک، غیر انساني او د سپکاوي ډک سلوک او یا هم مجازاتو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول او د نړیوالې جنایي محکمې د روم اساسنامه). د مدني ټولنې سازمانونو د مهمو ډموکراتیکو موسسو په رامنځته کولو کې چې د هغوي د لارې نوی ټاکنیز قانون اعلان او د انجمن جوړونې نوی قانون تصویب شو چې له مخې یې د نا دولتي موسسو لپاره دولتي او همدارنګه د بهر څخه د تمویل احکام لري. د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر څخه راپه دې خوا چې دغه قانون تصویب شوی دی په تونس کې په زرګونو ټولنې جوړې شوي دي. د ۲۰۱۱ کال په ټاکنو کې چې په تونس کې لومړنۍ ډموکراتیکې او شفافې ټاکنې وې د مدني ټولنې نقش اساسي و. د لومړي ځل لپاره د مدني ټولنې د ۱۰۰۰۰څخه زیات فعالان منسجم شول څو چې د اساسي قانون د مجلس(شورا) په ټاکنو کې د نړیوالې ټولنې سره په همکارۍ کې د نظارت دنده تر سره کړي. مدني ټولنه او په ځانګړې ډول ښځینه موسسو د دې لپاره مدافعه تر سره کړه چې د اساسي قانون د نوې مسودې په متن کې چې د ۲۰۱۴ کال په جنورۍ کې د اساسي قانون د مسودې په ترتیب کې چې د غړو په مطلق اکثریت تصویب شو د ښځو او نارینه وو تر منځ د بشپړې برابرۍ اصل ورځای کړي.

د مدني ټولنې د فضاء د ښه والي او ساتنې د اهمیت په اړه د بشري حقونو د شورا د هیئت د بحث لنډیز، A/HRC/27/33

**2.3 ملاتړ کونکي تنظیمي چوکاټ** - قوانین، اداري مقررات او قواعد د نړیوالو معیارونو سره په سمون کې دي او د مدني ټولنې د فعالیتونو څخه ساتنه کوي. د مدني ټولنې د غړو لپاره عدالت ته لاس رسی، خپلواکې او د بشري حقونو مؤثره موسسې، او د بشري حقونو نړیوالو میکانیزمونو ته لاس رسی د دغه چوکاټ اساسي نه جلا کیدونکې برخې دي. غوره

قوانین او پالیسۍ د دې لپاره حیاتي او اړیني دي خو که په سم ډول پلې نه شي نو هغه به غیر مؤثره او بې ګټې وي.

په **سلوانیا** کې د انجمن جوړولو د ازادۍ حق ټولې ټولنې، دهغو په شمول چې لا هم نه دي ثبتې شوې محافظت کوي؛ او د دې اجازه ورکوي هغه افراد چې په غیر ثبت شوو موسسو کې فعال دي باید د دې ازادي ولري چې فعالیتونه ترسره کړي، د دې په شمول چې په سوله ییزو غونډو کې هم ګډون ولري.

د سوله ییزې غونډې او انجمن جوړولو د ازادۍ حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورتر راپور، A/HRC/20/27

په **لبنان** او **مراکش** کې وړاندې تردې چې د مدني ټولنې سازمانونه د کورنیو او بهرنیو سرچینو څخه بودجه تر لاسه کړي د قانون له مخې لازمي نه ده چې د چارواکو تصویب ترلاسه کړي.

د سوله ییزې غونډې او انجمن جوړولو د ازادۍ حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورتر راپور، A/HRC/20/27

**3.3 د معلوماتو ازادانه جریان** - مفکورو، ارقامو، راپورونو، نوشتونو، او پریکړو ته ازادانه لاس رسی؛ څو د مدني ټولنې غړو ته دا امکان برابروی چې د موضوعاتو څخه خبر او معلومات ولري، خپلې اندیښنې څرګندې کړي، په اغیزمن ډول په فعالیتونو کې ښکیل شي او د مسلو په حل کې مرسته وکړي.

**4.3 اوږد مهاله ملاتړ او سرچینې** - د دې لپاره د تدابیرو نیول چې په حاشیه او تجرید کې راغلو کسانو ظرفیت لوړ شي، او د مدني ټولنې د ټولو غړو لپاره سرچینو، د غونډو ځایونو او ټکنالوژۍ ته لاس رسی باوری شي.

په **کرواسي** کې په ۲۰۰۷ کال کې د «انجمنونو د پروګرامونو او پروژو لپاره د مالي سرچینو د برابرولو د غورو تجربو معیارونو او شرایطو» قانون تصویب کړ چې هغه د حکومت په ټولو کچو کې د عامه مالي سرچینو د ویش لپاره د دولتي چارواکو لپاره شفافیت، اساسي قواعد او طرزالعملونه ټاکي.

د غیر انتفاعي قانون لپاره اروپایي مرکز (ECNL) د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره عامه مالي سرچینې: په اروپايي ټولنه او لویدیځ بالکان کې غوره تجربې، ۲۰۱۱.

## 5.3 د ډيالوګ او همکارۍ لپاره ګډې ساحې - د پريکړې په بهيرونو کې د مدني ټولنې د ځاي باوري کول.

په **مالديف** کې په ۲۰۱۴ کال کې حکومت د ښځو د حقونو د مدافعانو لپاره د يوې پنځه ورځنۍ غونډې ملاتړ وکړ ځو په دې توګه د سيمه ييزو نا دولتي موسسو او نړيوالو سازمانونو سره په اسلامي چوکاټ کې د جنسيت د برابرۍ په اړوند سيمه ييزي تجربې سره شريکي کړې او پرې بحث وکړي.

په **مکسيکو** کې د بشري حقونو د مدافعانو او ژورنالستانو د ساتنې لپاره د ۲۰۱۲ کال قانون ملي ميکانيزم برابروي ځو د بشري حقونو د مدافعانو او ژورنالستانو په وړاندې تهديدونو ته رسيدګي وشي. د دغه قانون مسوده د مدني ټولنې د فعالانو او کانګرس په ګډون جوړه اود نړيوالو نادولتي موسسو او په مکسيکو کې د بشري حقونو دعالي کميشنر د دفتر له خوا يې ملاتړ وشو.

په **نيپال** کې په ۲۰۱۰ کال کې د فرقه ييز او نجاست/ تماس نه کولو د تبعيض پر ضد قانون د مدني ټولنې، د داليت د ملي کميسيون اود بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر د هيوادني دفتر په ګډون تسويد شو . دغه قانون د ۲۰۱۱ کال په مى کې تصويب شو.

په **نيوزيلند** کې په ۲۰۱۱ کال کې د معيوبو کسانو د ټولنې په ګډون د معلوليت لايحه تسويد شوه.

د سوله ييزي غونډې او انجمن جوړولو د ازادۍ د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورتر راپور، A/HRC/20/27

د **وانواتو** په کوچني جمهوريت کې په ۲۰۱۳ کال کې حکومت د UPR کميته جوړه کړه چې د هغې مرستيال رييس د وانواتو د نادولتي موسسو د ټولنې له خوا معرفي شو. د دې سربيره د مدني ټولنې استازې د بشري حقونو په ملي کميته کې هم حضور لري. دغه ارګان د دې ملکفيت لري چې د وانواتو د بشري حقونو د راپور ورکولو او د بشري حقونو د موسسې تاسيس همغږي کړي. په ۲۰۱۳ کال کې هغه موسسې چې د معيوبيت لرونکو کسانو سره کار کوي ورسره د معيوبو کسانو د حقونو په اړه کميتې ته د راپور ورکولو په لړ کې پراخې مشورې وشوې.

## د مدني ټولنې د کار په اړوند نړيوال قانوني معيارونه

مدني ټولنې د فعاليت لپاره يو مساعد چاپيريال بايد د يوه قوي ملي پروګرام له لارې چې د بشري حقونو د نړيوال قانون پر بنسټ ولاړ وي، ملاتړ وشي.

د بیان ازادي، د انجمنونو او سوله ییزو غونډو او په عامه چارو کې د ګډون د ازادی حق هغه حقونه دي چې خلک په دې توانوي څو هغوي د مثبت بدلون لپاره منسجم شي. هر یو په منفردانه او یا هم د نورو سره یوځای باید د دغو حقونو څخه برخمن و اوسي. دغه حقونه د مدني ټولنې لپاره مرکزي حیثیت لري.

تر ټولو اساسي نړیوالو اسنادو کې هغه اسناد شامل دي چې په مستقیم ډول د عامه آزادیو په ساتنې پورې تړاو لري او ټول یې د عدم تبعیض اصل ته راجع کیږي:

- د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (۱۹، ۲۰، ۲۱ مادې)؛
- د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون د فکر، بیان، سوله ییزې غونډې او ټولنې د جوړولو ، او په عامه ژوند کې د ګډون د ازادۍ حقونه تامینوي(۱۹، ۲۱، ۲۲، ۲۵ مادې)؛
- د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کنوانسیون دا حق تامینوي چې له مخې یې صنفي اتحادیه جوړه او یا هم په کې ونډه واخیستل شي او په سیاسي ژوند کې شمولیت ولري (۸، ۱۵ مادې)؛
- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون د ښځو لپاره دا حق برابروي چې په سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي ژوند کې برخه واخلي ( ۳ ماده)؛
- د نژادي تبعیض د هر ډول شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون د بیان، غونډو ، ټولنې او عامه چارو د سرته رسولو په لړ کې تبعیض منع کوي ( ۵ ماده)؛
- د ماشومانو د حقونو قانون د بیان، ټولنې او سوله ییزې غونډې جوړولو، لپاره آزادي تامینوي( ۱۳، ۱۵ مادې)؛
- د معیوبیت درلودونکو د حقونو لپاره کنوانسیون د فکر او دبیان د ازادۍ، او معلوماتو ته د لاس رسي حق، په سیاسي، عامه او فرهنګي ژوند کې دګډون حقوق تضمینوي ( ۲۱،۲۹، ۳۰ مادې)؛
- د اجباري لادرکه کېدنې په وړاندې د افرادو د ساتنې نړیوال کنوانسیون ددې حق برابروي چې هغوی په ازادانه توګه هغسې سازمانونه او انجمنونه جوړ کړي او په کې ګډون وکړي چې د اجباري لادرکه کېدنو د شرایطو د هڅو او د لادرکه شوو کسانو د سرنوشت په اړه اندیښنې لري، او د اجباري لادرکه کېدنو د قربانیانو سره مرسته وکړي (۲۴ ماده)؛ او
- د ټولو مهاجرو کارګرانو او د هغوی د کورنیو د غړو د حقونو د ساتنې نړیوال کنوانسیون د هغوی لپاره د ټولنې او انجمنونو حق تامینوي( ۲۶ ماده).

د بیان ، انجمنونو او سوله ییزې غونډې د ازادۍ حقونه او په عامه چارو کې د ګډون کولو حق د نورو مدني، فرهنګي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو حقونو لپاره د یوې محرکې په توګه کار کوي. دغه حقونه ښځې، نارینه، ماشومان څواکمنوي چې په هغو فعالیتونو کې برخه ولري چې د ښې راتلونکې په موخه په ټولنه کې بدلون راوړي.

**دبيان آزادي:** د بيان په ازادۍ کې په سياسي او مذهبي مباحثو، عامه چارو، د بشري حقونو په برخو کې د هر ډول معلوماتو، مفکورو پلټل، تر لاسه کول او په کا راچول دي او همدارنګه فرهنګي او هنري څرګندونې شاملې دي. د بيان د ازادۍ ساحه چې کېدلای شي هغه په زياته پيمانه د سپکاوي په توګه وي تر محدويت لاندې راځي(د بېلګې په توګه د ملي، نژادي او مذهبي نفرت لپاره تبليغ چې د تبعيض، عداوت او خشونت د راپارولو لامل کيږي د ممنوعيت لپاره د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د ۵ د رباط د عمل پلان). د بيان ازادۍ ټول شکلونه او د ويش ټول وسايل **محفوظ دي:** شفاهي. تحريري او د اشارو ژبه او غير شفاهي څرګندونې لکه شکلونه او هنري شيان. د کتابونو، ورځپاڼو، پمپلټونو،کارتونونو، بنرونو، کاليو او قانوني موضوع ګانو له لارې بيان ممکن دی. په بيان ازادۍ کې ټولې سمعي- بصري او همدارنګه الکترونيکي او د انټرنيټ د لارې څرګندونې شاملې دي.

**د انجمنونو ازادي:** انجمن د افرادو او نهادونو هغو ډلو ته راجع کيږي چې هغه په ټوليز ډول د مشترکو ګټو لپاره کار کوي، اظهار کوي، هغو ته وده ورکوي، تعقيبوي او دفاع يې کوي. د ټولنې د ازادۍ بېلګو کې د مدني ټولنې په سازمانونو، کلپونو، کوپراتيفونو، نا دولتي موسسو، ديني ټولنو، سياسي ګوندونو، کارګري اتحاديو، نهادونو او يا هم آنلاين انجمنونو کې يوځاي کېدل، ګډون- يا هم د نه ګډون کول شامل دي. «د هر انجمن – که هر څومره کوچنۍ هم وي – توانايي ډېر مهم او اړين دي چې د خپل موجوديت او اغيزمنو فعاليتونو لپاره سرچينې ولټي، ترلاسه کړي او ويې کاروي. د انجمنونو د ازادۍ په حق کې د کورنيو، بهرنيو او نړيوالو منابعو څخه د سرچينو، پلټل، تر لاسه کول او کارول- که هغه بشري، مادي او مالي دي، شامل دي.» [ A/HRC/23/39, Para.8].

**د سوله ييزې غونډې ازادي:** سوله ييزه غونډه په خصوصي يا عامه ډول د يوې ځانګړې موخې لپاره يوه موقته، پرته د تاوتريخوالي ټولېدنه ده. په دې کې مظاهرې، اعتصابونه، په ټوليز ډول او لاريونونو کې ګډ حرکت او ناستې شاملې دي.

**په عامه چارو کې د ګډون حق:** د عامه او دولتی چارو پر مخ بول يو پراخه مفهوم دی چې هغه د سياسي ځواک په کارولو پورې تړاو لري؛ په تيره بيا د تقنين، اجرايوي او اداري ځواکونو په لړ کې. په دې کې د عامه اداري ټولې ساحې، او په نړيوالو، ملي، منطقوي او محلي کچو د پاليسيو جوړول او پلي کول شامل دي. ګډون کېدلای شي چې په ازادانه توګه د ټاکل شوو استازو، او يا هم په مستقيم ډول، د اساسي قانون د تصويب او تغير، د قوانينو د طرحې /تقنين او د پاليسيو دجوړولو، دعامه رايې يا ريفرنډم، د عامه مسالو په اړه دپريکړو، په وګړنيزو اسمبليو /شورا ګانو کې چې د محلي ستونزو لپاره د پريکړې کولو واکونه لري د وېډې درلودلو د لارې وي. د ټولنې د ازادۍ حق کې د سازمانونو او هغو انجمنونو چې د سياسي او عامه دولتی چارو په اړه وي تشکيلول او په هغو کې د ګډون حقونه شامل دي چې هغه په دولتي چارو کې د ګډون د حق لپاره اهميت لري.

**عدم تبعيض:** پورتني ټول حقونه ټولو افرادو لپاره تضمين شوي دي، پرته له هر ډول تبعيضه که هغه د نژاد، رنګ، جنس ، ژبې، مذهب ، سياسي يا بل هر ډول تفکر، د جنډر تشخيص، ملي او يا هم ټولنيزې منشاء، شتمنۍ، زيږد او يا هم بل موقف له امله. دغه حقونه د ښځو ، ماشومانو،

بومي خلکو، د معیوبیت درلودونکو ، په لړکیو او یا هم نورو هغو ډلو پورې چې د تجرید او یا هم شړنې د ګواښ سره مخ دي چې په کې هغه قربانیان هم شامل دي چې هغه د خپلې جنسي منشاء او جنډر د تشخیص له امله د تبعیض سره مخ دي، غیر اتباع، چې په کې بې هویته اشخاص ، کډوال او مهاجر، او همدارنګه ټولنې چې په کې غیر ثبت شوې ډلې هم شاملې دي په دې کې راځي.

دغه نړیوال معیارونه د دولت د ټولو قواوو له خوا د پلي کېدا وړ دي: اجراییه، مقننه او قضائیه؛ نور دولتي چارواکي په ملي، منطقوی او یا محلي کچه هغه پلي کوي. همدارنګه پر دولت باندی دا لازم دي چې د هغو افرادو یا نهادونو پر وړاندی چې د دغو ازادیو څنډ ګرځي د ټولو خلکو ساتنه وکړي. دولتونه لومړنی مسوولیت لري څو د دغو حقونو وده او د هغو څخه مستفید کېدل محافظت کړي.

د بیان، د انجمنونو د جوړولو، او د سوله ییزې غونډې ازادی، د ځان سره ځانګړې دندې او مسوولیتونه لري نو له همدې کبله د هغو څخه برخمن کېدل به ځینې مشخص محدودیتونه د ځان سره لري. هر ډول خنډونه باید د قانون پر اساس وي او باید چې په جدي توګه د نورو د حقونو او حیثیت د رعایت؛ یا د ملي امنیت او عامه نظم د ساتلو او د عامې روغتیا او یا هم مورال د ساتنې لپاره اړین وي. دغه دلایل هیڅکله هم په دې مانا نه دي چې د ګڼ ګوندیزې ډموکراسۍ، ډموکراتیکو اصولو او بشري حقونو څخه د تیښتې د مشروعیت د توجیه کولو په توګه و کارول شي.

د بشري حقونو کمیټه، ۳۴ ګڼه عمومي تبصره، ۱۹ ماده: د فکر او بیان آزادي، CCPR/C?GC/34 او ۲۵ ګڼه عمومي تبصره، ۲۵ ماده: په عامه دولتي چارو کې د ګډون حق، /CCPR/ C/21/Rev.1 /Add.7 . د سوله ییزې غونډې او ټولنې جوړولو د ازادۍ حقونو په اړه د ملګرو ملتونو خاص راپورتر، .A/HRC/20/27 and A/HRC/23/39

«هیڅ یو له موږ څخه په یواځې توګه د حکومتونو په شمول په دغو ټولو حقایقو او غوره نظریو پوه نه یو، یا د دې لپاره د ټولو دغو ستونزو په لاملونو پوه نه یو چې غواړو د حل لپاره یې مطرح کړو. موږ کولای شو چې یو اځې د ټولیز درک او پوهې څخه برخمن و اوسو. نو ځکه دا زموږ لپاره مهمه ده چې د پریکړې تر مخه د ټولو ډلو په تیره بیا په حاشیه کې د راغلو کسانو غږ واورو. د بیلګې په توګه د بشري حقونو کمیټه د پراخو سرچینو څخه معلومات راټولوي: د خپلو حکومتونو، ملګرو ملتونو، او مدني ټولنې څخه. دا موږ سره د وروستنیو کتنو او وړاندیزونو د معلوماتو په لړ کې مرسته کوي چې د عملي اقداماتو لپاره طرحې جوړې او د خپلو مکلفیتونو سره سم قوانین او کړنې د بشري حقونو د ټرونونو په برخه کې چې دوی لاسلیک کړي دي د خپلو ورکړل شوو ژمنو سره په سمون کې راولي.»

پروفیسور سر نیګل روډلي،
د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمیټې رئیس، اکتوبر،۲۰۱۴

## 4. هغه ننګونې چې د مدني ټولنې غړي ورسره مخ شوي دي

په محلي، ملي، منطقوي او نړیوالو کچو د مدني ټولنې غړي کېدلای شي د هغو خنډونو سره مخ شي چې موخه یې د هغوی د مشروعو فعالیتونو د تاثیراتو مخنیوی، کمښت، ځنډول او یا هم دهغوی پر شا ګرځول دي ځکه چې هغوی د حکومت د دریځونو ، پالیسیو او اقداماتو منتقدین او یا هم مخالفین دي.

په دې کې کېدلای شي د مدني ټولنې د غړو پرضد د هغوي پر ازادۍ او خپلواکۍ باندې محدودیتونه وضع شي او یا هم د ځورونې، تهدید او غچ اخیستنو (د بیلګې په توګه مجازات یا د غچ اخیستل سره مخ شي.

د مدني ټولنې کار د اغیزو د مخنیوي، کمولو، ځنډولو، درولو او یا په شاتمولو لارې




## 4. 1 قانوني یا هم مقرراتي تدابیر چې د مدني ټولنې د کار ممانعت کوي

قوانین او مقررات کولای شي چې د مدني ټولنې د غړو ازادي او خپلواکي محدوده کړي، د بیلګې په توګه په لاندې ډول:

- د ثبتولو لازمي ګڼل پرته له دې چې کومه مثبته ګټه ولري (د مثال په ډول مالیاتي ګټې)،
- د دې محدودیت چې کوم ډول فعالیتونه باید تر سره شي،
- د غیر ثبت شوو فعالیتونو په وړاندې جرمي مجازات او تعزیرات وضع کول،

- د ځینو ځانګړو انجمنونو پر ثبت بانديې محدودیت وضع کول، چې په کې نړیوالې نادولتي موسسې، یا هغه انجمنونه شامل دي چې بهرنۍ مرستې تر لاسه کوي او یا هغه ډلې چې د بشري حقونو لپاره کار کوي،
- د دې لپاره معیارونه ټاکل چې څوک کوم ډول فعالیتونه کولای شي او یا هم ددغو فعالیتونو محدودول،
- د تمویل لپاره د سرچینو محدودول( د مثال په توګه بهرنۍ سرچینې)، او
- د سوله ییزې غونډې، انجمنونو او د بیان ازادۍ د اداري لپاره قانونګذاري چې په کې تبعیضي احکام شامل وي، او یا هم داچې په ځینو ځانګړو ډلو بانديې په نا متناسبه ډول منفي اغیزې لري.

د دې سربیره دغه ډول سخت اداري طرزالعملونه او احتیاطي تدابیر کولای شي چې د مدني ټولنې غړي د دغو فعالیتونو څخه واړوي او یا هم په هغو کې د ځنډ لامل شي.

کله چې د معلوماتو د لاسته راوړلو ازادي محدوده شي د مدني ټولنې غړي ډیر لږ کولای شي چې په موثره توګه د پالیسۍ جوړولو په ډګر کې دخیل پاتې شي. د پریکړې کولو په بهیرونو کې د ګډون لپاره غیر ضروري، محدود او سخت شرایط ( د مثال په توګه « د ناظر موقف» چې د مدني ټولنې غړو ته ورکول کیږي، او یا هم د محدودې وینا حقونه) همدارنګه هغه خنډونه دي چې د ښکیلتیا مخنیوی کوي. د ټولنې جوړولو د ازادۍ معیارونه لکه څنګه چې په نړیواله کچه د پلي کېدو وړ دی همغه شان په ملي او محلي کچو پلي کیږي.[3]

## 2.4 ناقانونه/پخپل سر اقدامونه

کله چې مدني ټولنه د حکومت د دریځونو، پالیسیو او اقداماتو په اړه انتقاد کوي نو د قوانینو مبهم احکام کېدلای شي چې د قانونیت او مشروعیت په ګومان پخپل سر او نا قانونه توګه پلي شي( د بیلګې په توګه د پیسو د پریمینځلو ، ترهګرۍ سره د مبارزې، د عامه اخلاقو څخه د سرغړونې او د توهین د مخنیوي، د ملي حاکمیت ساتنه) ، چې د دې په پایله کې لاندني موارد رامنځته کیږي:

- د داخلي منجمنت یا اداري نا قانونه څارنه اوکره کول،
- د منحل کولو لپاره تهدید او یا هم په عملي توګه منحل کول،
- په اجباري توګه د دفتر تړل،
- د شتمنیو تلاشي او ضبطول،
- د ډیرې زیاتې جریمې وضع کول،
- جعلي عدلي تعقیب،

[3] د سوله ییزې غونډې او انجمنونو د جوړولو د ازادۍ د حقونو په اړه او د ګڼ اړخیزو موسسو په زمینه کې د سوله ییزې غونډې او انجمنونو د جوړولو حقونو د کارولو په اړوند د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپورتررا پور،A/69/365

- پخپل سر او ناقانونه نیول او توقیف،
- په سفر باندې قیودات وضع کول،
- د تابعیت څخه محرومول، او
- په ناقانونه توګه د احتجاجونو او غونډو لپاره محدودیتونه او لغوه کول.

د مدني ټولنې لپاره په قانوني لحاظ او په عملي توګه د یوه مصوونه چاپیریال د ر امنځته کولو په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د شورا ۲۴/۲۱ ګڼه پریکړه لیک کې د دې یادونه کیږي، «په ځینو حالاتو کې کورني قوانین او اداري احکام ... داسې کارول شوي او یا هم ورڅخه ناوړه ګټه پورته شوې څو د مدني ټولنې د کار لپاره مانع شي او یا هم د هغې مصوونیت د نړیوال قانون څخه په مغایرت کې تر خطر او ګواښ لاندې راولي.»

## 3.4 نا قانونه ځورونه، ارعاب او غچ اخیستنې

په قانوني لحاظ د تحمیل شوو محدودیتونو سربیره او پخپل سر د قوانینو پلي کولو سره چې کولای شي د مدني ټولنې لپاره فضاء را تنګه کړي، او دمدني ټولنې په غړو او دهغوي د کورنیو پر خلاف د تهدیدونو او د رواني فشارونو او فزیکي بریدونو ترسره کول کولای شي په ازادانه توګه د هغوي د کار کولو مخنیوي وکړي.

لاندني موارد یې بیلګې دي:

- د ټیلیفون د لارې تهدیدونکي پیغامونه،
- څارنه،
- فزیکي او یا هم جنسي بریدونه،
- د شتمنیو ویجاړول،
- د کار څخه محرومول او دعوایدو د لاسه ورکول،
- د تور پورې کولو کمپاینونه چې په کې د مدني ټولنې غړو باندې د «دولت د دښمنانو»، «خاینونو» او یا داچې «د بهرنیو ګټو لپاره د کارکوونکو » ټاپې اېښوول کیږي،
- لادرکه کول،
- شکنجه،
- وژنې.

«خلک او د مدني ټولنې ډلې اکثره وخت خپل ژوند د ګواښ سره مخ کوي څو د نورو وګړو ژوند کې ښه والی راولي. هغوي خپل غږ په داسې حال کې پورته کوي

چې کیدلای شي د همیشه لپاره خاموشه شي. هغوي هغسې ستونزې راپه ډاګه کوي چې نور یې له پامه غورځوي او یا هم کیدلای شي د هغو په اړه معلومات ونه لری. هغوي زموږ د حقونو څخه ساتنه کوي او د خپلو حقونو مستحق دي.»

د مدني ټولنې د ملاتړ لپاره د لوړې کچې په غونډه کې
د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي ښاغلي بان کي مون د وینا څخه
د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر ۲۳

«د ځورونو، ارعاب او غچ اخیستنو کړنې د بشري حقونو فعالان او شاهدان د دې لپاره تر فشار لاندې نیسي چې اندیښنې څرګندوي او د ملګرو ملتونو او یا نورو نړیوالو فعالانو سره کار کوي. په عین وخت کې دغه ډول کړنې د دې لامل کیږي چې په عامه ولس کې ډار راولي او د ظلم ډک نا ارامه چاپیریال رامنځته کړي، د بیان، انجمنونو او سوله ییزو غونډو د جوړولو ازادي چې د یوې ډموکراتیکې ټولنې لپاره اړینه ده له منځه وړي.»

سفیر لاورا ډوپوي لازاري،
په ژنیو کې د ملګرو ملتونو په دفتر کې د اروګواي دایمي استازی
او د بشري حقونو د شورا رئیس (۲۰۱۲-۲۰۱۱)

## د بشري حقونو ښځینه مدافعینې

د بشري حقونو مدافعینې، د خپلو نارینه وو همکارانو په شان، د خطرو سره مخ دي. برسیره پر دې ، هغوي د ښځې په عنوان د جنډر د ځانګړو تهدیدونو او د جنډر اړوند تاوتریخوالي تر بریدونو لاندې راځي. اکثره وخت د بشري حقونو د مدافعینې کار د کورنیو او په ټولنه کې د جنډر د نقشونو دودیزو تصوراتو له امله ننګونکی دی چې د دې سره د عامو خلکو او چارواکو تر منځ د دښمنیو لامل کیږي. د بشري حقونو مدافعینې د ټولنې د مشرانو، عقیدوي ډلو، کورنیو او ټولنو په باور چې ګواکې هغوي د خپل کار د لارې مذهب، ویاړ او فرهنګ تهدیدوي د بدنامۍاو د ټولنیزو حقونو څخه د محرومیت سره مخ کیږي.

ددې سربیره د دوی د کار ماهیت او هغه څه د تر لاسه کولو لپاره چې هڅه یې کوي (د بیلګې په توګه د ښځو د حقونو تامین او یا هم د جنډر اړوند نور حقونه) کولای شي چې دوی تر بیلابیلو بریدونو لاندې راولي. د هغوي کورنۍ هم د تهدیدونو او تاوتریخوالي سره مخ کیږي چې هدف یې د بشري حقونو د مدافعینې تجریدول دی او یا دا چې هغوي د دې څخه را وګرځوي چې خپل کار ته ادامه ورکړي. د بشري حقونو مدافعینې د خپلو نارینه وو همکارانو په پرتله د دغه ډول تاوتریخوالي او نورو تخلفاتو، تعصب، محرومتیا او ردونو سره مخ دي. دغه ځانګړې ننګونې باید د دې لپاره تشخیصي شي څو د هغوي د ساتنې لپاره میکانیزمونه او د اندیښنو لپاره یې نور غبرګونونه هم په محلي او هم په نړیواله کچه تقویه کړای شي. د بشري حقونو د ښځینه مدافعینو

په ورانديې دارعاب، تهديدونو، تاوتريخوالي او نورو تيريو چټک او بشپړ تفتيش، که څه هم هغه د دولتي او يا غير دولتي فعالانو له خوا شوي وي بايد تر سره شي.

په ۲۰۱۳ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د بشري حقونو د ښځينه مدافعينو په اړوند خپل لومړنې ۶۸/ ۱۸۱ ګڼه پريکړه ليک تصويب کړ چې په هغه کې په ځانګړې ډول د سيستماتيکو او ساختاري تبعيض او تاوتريخوالي په اړه چې د بشري حقونو د هر عمر مدافعينې ورسره مخ دي ځانګړې انديښنه څرګنده شوې ده، او د دولتونو څخه غوارې څو هر ډول اړين تدابير د دې لپاره ونيسي چې د هغوي ساتنه باوري کړای شي او پخپلو هڅو کې د جنډر پر بنسټ زياتوالي راولې او په دې توګه د بشري حقونو د دفاع لپاره يو مصوونه او مساعد چاپيريال رامنځته کړي.

د **عاج په ساحل** کې د ۲۰۱۴ کال د بشري حقونو د مدافعينو د ترويج او ساتنې په قانون کې ډيرى حقونه د بشري حقونو د مدافعينو په اعلاميه کې تشخيص شوي دي، چې په کې د بيان ازادي ، د ټولنو او نا دولتي موسسو د جوړولو حق، سرچينو ته د رسيدنې حق، نړيوالو ارګانونو ته د معلوماتو د ورکولو حق او د دې حق درلودل چې د هر ډول غچ اخيستنو څخه به ژغول کيږي، شامل دي. په دغه قانون کې د دې مسووليت شامل دی چې د بشري حقونو د مدافعينو ،د هغوي د کورنيو او کورونو په وړاندې د بريدونو څخه ساتنه وشي او د شوو بريدونو تحقيق وشي او عاملين يې مجازات شي. په دې کې د بشري حقونو د ښځينه مدافعينو په وړاندې د هغو مشخصو تهديدونو او اړينو ساتنو پيژندنه شوې ده چې هغوي ورسره مخ شوي دي. د عاج د ساحل د قانون څخه د مدني ټولنو د سازمانونو له خوا هرکلی شوی دی چې په کې د عاج د ساحل د بشري حقونو د مدافعينو ايتلاف او د لويديزې افريقا د بشري حقونو د مدافعينو شبکه شامل دي.

## د افرادو او ډلو په وړاندې د ملګرو ملتونو سره د همکارۍ له امله تهديد/ ارعاب، او غچ اخيستنې

«مدني ټولنه دملګرو ملتونو دکار د پر مخ بولو لپاره زموږ د اجنډا له مخې نه يواځې د بشري حقونو په برخه کې بلکې د سولې ، امنيت او همدارنګه د پرمختيا لپاره مرکزي نقش لري. مدني ټولنه هيڅکله هم دومره زياته مهمه او اړينه احساس شوي نه وه. د هغو کسانو په وړاندې چې د ملګرو ملتونو سره همکاري کوي غچ اخيستنې او ارعاب د منلو وړ نه دي- دا نه يواځې د دې له امله چې هغوي موږ سره د هغه کار په ترسره کولو کې مرسته کوي چې د ملګرو ملتونو د منشور او بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې له مخې يې موږ ته دنده او واک راکړل شوی دی- بلکې دا ځکه چې په دې توګه هغوي غواړې چې نور کسان زموږ سره د کار کولو څخه لېرې کړي. موږ بايد په هره کچه د دې لپاره اقدام وکړو څو د ډموکراسۍ غږ تقويت کړو.»

د مدني ټولنې د ملاتړ لپاره د لوړې کچې په غونډه کې
د ملګرو ملتونو د سرمنشي ښاغلي بان کي مون د وينا څخه
د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر ۲۳

«ملګري ملتونه د بشري حقونو لپاره خپل با ارزښته کار پرته له هغوي څخه چې زموږ سره همکاري کوي نه شي تر سره کولای. کله چې هغوي تر تهدید او ارعاب لاندې وي او د غچ په موخه هدف ګرځیدلي وي، هغوي قرباني وي، نو موږ لږ مصوونه یو. کله چې د هغوي همکاري ودریږي نو د بشري حقونو په ساحه کې زموږ فعالیت د خطر سره مخ کیږي.»

د تلافی او غچ اخیستنې په اړه د لوړې کچې د هیئت په بحث کې
د ملګرو ملتونو د سرمنشي شاغلي بان کي مون اعلامیه
نیویارک، ۲۰۱۱

په ځانګړې ډول د هغو کسانو او ډلو پرخلاف چې د ملګرو ملتونو سره د بشري حقونو په ساحه کې همکاري کوي د تهدید او غچ اخیستنې کړنې ټکان ورکونکې دي. د دې سربیره چې په نړیواله کچه دا منل شوې ده چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په سیستم کې باید افراد او ډلې ګډون او شتون ولري خو بیا هم دغه ډول کړنې ادامه لري.

د ملګرو ملتونو د میکانیزمونو او چاروکو سره د ښکیلتیا له امله (د بیلګې په توګه اعلامیې، څرګندونې، غونډې، او داسې نور) د مدني ټولنې منفرد فعالین کیدلای شي چې د تهدید یا غچ اخیستنو سره مخ شي لکه د حکومتي چاروکو له خوا د هغوي پرخلاف تهدیدونه او ګوروني ، چې په کې د لوړ پوړو چاروکو له خوا په عامه توګه اعلامیې هم شاملې دي؛ او کیدلا ی شي چې په غونډو کې د ګډون کولو په موخه د سفرونو څخه منع شي، او د مدني ټولنې فعالین ممکن په دې پوه شي چې د دوي فعالیتونه تر څارنې لاندې دي او پرې محدودیت راغلی. په ټولنیزو چاپي رسنیو او ټلویزیون کې د بدنامه کولو لپاره تبلیغات یوه غیر معمول کار نه دي. تهدیدونه کیدلای شي چې د ټیلیفون، د متني پیغامونو او یا هم مستقیمو تماسونو د لارې ترسره شي. د مدني ټولنې غړي کیدلای شي ونیول شي، و وهل شي او یاداچې تر شکنجې لاندې راشي او یا هم حتی و وژل شي.

د دې ستونزې په هکله د بشري حقونو شورا ګڼ شمیرپریکړې تصویب کړي دي، چې په کې ۲۴/۲۴ او ۲/۱۲ ګڼه پریکړه لیکونه شامل دي. عمومي سر منشي هر کال د بشري حقونو په ساحه کې د ملګرو ملتونو سره د همکارۍ له امله د غچ اخیستنې د قضیو په اړه راپور ورکوي. دواړو د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي او د بشري حقونو عالي کمیشنر په وار وار ویلي دي چې دغه ډول غچ اخیستنې د زغملو وړ نه دي او داچې د ملګرو ملتونو له خوا د دغه ډول کړنو په وړاندې لا هم واحد او همغږی شوی غبرګون په کار دی. د غچ او انتقام اخیستنو په وړاندې د بشري حقونو نور میکانیزمونو هم یو ځواکمن او ښکاره دریځ اختیار کړی دی.

## د غچ اخیستنې په وړاندې د بشري حقونو د تړون احکام

**د اقتصادي ، ټولنیزو او فرهنګي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون اختیاري پروتوکول- ۱۳ ماده**

هر دولت د یو اړخ په توګه باید لازم تدابیر په پام کې ونیسي څو دا باوري کړي چې د هغه د حاکمیت لاندې کسان د اوسني پروتوکول په تعقیب د کمیټې سره د مفاهمې له امله د ناوړه سلوک یا هم تهدید سره مخ نه شي.

**د ماشوم د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول د مفاهمې طرزالعمل - ۴ ماده**

هر دولت د یواړخ په توګه باید د دې لپاره لازم قدمونه واخلي څو دا باوري کړي چې د هغه په قلمرو کې افراد د اوسنې پروتوکول په تعقیب د بشري حقونو د سرغړونو، ناوړه سلوک او یا هم د تهدید سره نه دې مخ شوي.

**د ښځو په وړاندې د تبعیض د هر ډول شکلونو د له منځه وړلو لپاره اختیاري پروتوکول - ۱۱ ماده**

هر دولت د یو اړخ په توګه باید لازم تدابیر په پام کې ونیسي څو دا باوري کړي چې د هغه د حاکمیت په قلمرو کې کسان د اوسنې پروتوکول په تعقیب د کمیټې سره د مفاهمې له امله د ناوړه سلوک یا هم تهدید سره مخ نه شي.

په **اتریش** کې د ۱۹۸۲ کال د پلټونکې هیئت د قانون ۱۸ پراګراف حکم کوي: «هیڅ څوک د دې له امله چې د شکنجې د مخنیوي فرعي کمیټې، پلټونکې هیئت/بورډ او یا هغو کمیسیونونو ته چې د دغه فرعي کمیټې له خوا جوړ شوي دي د معلوماتو د برابرولو له امله باید مجازات نه شي او یا هم د بل ډول نا مساعدو شرایطو سره مخ نه شي.»

په **مونټینګرو** کې د ۲۰۱۷ کال اساسي قانون ۵۶ ماده حکم کوي:» هر څوک د دې حق لري چې د هغو حقونو او ازادیو د ساتنې لپاره چې په اساسي قانون کې یې تضمین شوی دی نړیوالو موسسو ته مراجعه وکړي.»

قانوني او اداري محدودیتونه، چې د ځورونو، تهدیدونو، غچ اخیستنو سره یوځای وي د هغې جوړښتي او بشپړونکي متممې همکارۍ نقش کموي چې مدني ټولنه یې باید د دولتونو سره تر سره کړي. د هغو څخه موخه داده چې د مدني ټولنې د کار مخنیوی وکړي، هغه کم او بې اعتباره کړي او یا یې هم متوقف کړي او شاته یې وګرځوي. د دغه شان کار د فضاء د ودې او ساتنې مخنیوې او د مدني ټولنې لپاره د مصوونه او مساعد چاپیریال په باوري کولو کې پاتې راتلل د بشري حقونو د نړیوال قانون سره د دولتونو د مکلفیتونو په تناقض کې راتلل دي.

دولتونه د دې لومړنی مسوولیت لري چې د مدني ټولنې د غړو ساتنه وکړي، خو کله چې د مدني ټولنې فضاء، یا پخپله د مدني ټولنې غړي د هغوی د کار له امله د خطر سره مخ وي، نړیواله ټولنه په دې برخه کې ګډه منفعت او مسوولیت لري چې د هغوی ملاتړ او ساتنه وکړي.

## 5. زه څه کولای شم؟ ملګرو ملتونو ته مراجعه

د بشري حقونو نړیوال قانون یو منفرد نړیوال پلاتفورم برابروي چې د مدني تولنې غړي د هغه څخه ملاتړ او لارښوونه تر لاسه کوي. په دغه پلاتفورم کې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر، د بشري حقونو نهادونه، او دبشري حقونو شورا د هغو د میکانیزمونو په توګه شامل دي (ځانګړي طرزالعملي واکونه، نړیواله دوره یي کتنه، او نور).

«د بشري حقونو نړیوال معیارونه یو نړیوال چوکاټ دی چې هغه مدني سازمانونو ته د دې امکان برابروي څو هغوی په نړیواله کچه د موافقه شوو نورمونو لپاره مدافعه وکړي. دغه معیارونه نه یواځې د مدني سازمانونو فعالیتونو ته مشروعیت ورکوي، بلکې همدارنګه یو کارنده پروګرام برابروي څو په خپلواکه توګه د حکومتونو د بشري حقونو د مکلفیتونو په اړوند راپور ورکړي. د بشري حقونو نړیوال میکانیزمونه د یو مهم پلاتفورم په توګه را منځته شوي دي څو د هغو د لارې د مدني ټولنې لپاره د لا زیات مساعدونکي چاپیریال لپاره مدافعه تر سره شي. په ځانګړې ډول محدودونکي شرایط د ملګرو ملتونو ارګانونه د مدني ټولنې ملي ډلو ته د دې ښه فرصت برابروي څو د حساسو ستونزو په اړوند پوهاوي زیات او ډیالوګ رامنځته کړي.»

ډاکټر ډاني سریسکاندارجا
د CIVICUS عمومي منشي: د اتباعو د ګډون نړیوال ایتلاف
اکتوبر، ۲۰۱۴

د مدني ټولنې د فعالیت د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو د بشري حقونو میکانیزمونه دوه لارې لري:[4]

د مدني ټولنې د فعالیت، او غوره تجربو په اړه د خنډونو او تهدیدونو مستند کول. د بشري حقونو د وضعیت په اړه مستند کول د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د میکانیزمونو له خوا د مداخلو لپاره اساس برابروي. د مدني ټولنې د غړو له خوا د ښو مستند شوو او تصدیق شوو معلوماتو شتون د اقداماتو لپاره یوه قوي قضیه برابروي چې هغه زیاته معتبره او متقاعده کوونکې ده، په مشکل سره ترې انکار کیږي، او یوه اغیزمنه طریقه ده چې له مخې یې د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره کار کیدلا ی شي. د مدني ټولنې فعالیتو ته بلنه شوې چې خپل سندونه ( د بیلګې په توګه دقیق، واقعي معلومات، محتاط تحلیلونه، او مشخص وړاندیزونه) د موانعو او تهدیدونو په اړه چې د مدني ټولنې د غړو او د هغوی د کار د ساحې په وړاندې موجود دي سره شریک کړي او همدارنګه د بشري حقونو د میکانیزمونو لپاره غوره تجربې وړاندې کړي.

[4] هغه لوستونکي چې د دغو میکانیزمونو د مشخصاتو سره اشنایي نه لري کولای شي د مدني ټولنې لپاره د "د ملګرو ملتونو د پروګرام سره کار" تر عنوان لاندې د ملګرو ملتونو دبشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر لارښود کتاب ته مراجعه وکړي. لا زیات معلومات او مطالب کېدلای شي د مدني ټولنې لپاره عملي لار ښودونه او د هغو له جملې څخه د "د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سپارښتنې څنګه تعقیبولای شو " په ټولګه کې وموموئ.

د موجودې فضاء او فرصت څخه کار اخیستل. دمدني ټولنې غړو ته د دې امکان برابر شوی څو هغوی په نړیوالو کنفرانسونو او غونډو کې یا هم د متخصصانو په سفرونو کې د فرصتونو څخه په ګټنې سره ګډون وکړي. دغه فرصتونه د اظهاراتو، د ګزارشونو او د ګډون والو تر منځ د شبکو د لارې میسر دي څو په دې توګه د مدني ټولنې د فعالیت د ستونزو په اړه پوهاوی لوړ شي او همدارنګه وړاندیزونه او بریالۍ ستراتیژۍ ګانې سره شریکې کړای شي.

د مدني ټولنې د فعالیت د مسلو په اړه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د میکانیزمونو سره د کار کولو د لارې د مدني ټولنې فعالینو ته د دې فرصت برابرېږي څو د لاسته راوړنو څخه ( د بیلګې په توګه دولتونو ته د قانوني، اداري او نورو تدابیرو په اړه د نړیوالو موندونو او وړاندیزونو برابرول) د کار په ترڅ کې ګټه واخلي څو هغوی د مدني ټولنې د فعالیت څخه ملاتړ وکړي او په محلي کچه د مدني ټولنې فعالین څواکمن کړي.




د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د واکونو او میکانیزمونو د لاسته راوړنو بیلګې:

- د منفردو قضیو په اړوند د کمیټو یا د تړون د ارګانونو وروستنۍ کتنې او همدارنګه نظریات او وړاندیزونه؛
- ارزونې، وړاندیزونه او نتیجې چې د انفرادي قضیو په تړاو په هېوادنیو کتنو، موضوعاتي راپورونو او مفاهمو کې د بشري حقونو د شورا د ځانګړو طرزالعملونو ( خپلواکه متخصصین) له مخې دي؛
- د نړیوالې دوراه یي کتنې څخه راپورته شوي وړاندیزونه؛
- د بشري حقونو د شورا او عمومي اسامبلې پریکړه لیکونه او پریکړې؛
- هغه راپورونه چې د تحقیق د کمیسیونونو، د حقیقت موندنې د ماموریتونو او نورو موقتي ځانګړو تفتیشي میکانیزمونو چې د بشري حقونود شورا له خوا جوړ شوي، برابر شوي دي؛
- د عمومي سرمنشي ویناوې؛

- د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر بیانیې، راپورونه او مطالعې(د بیلګې په توګه د ساحوي دفترونو فعالیتونه؛ د هېوادنیو او موضوعاتي وضعیتونو په اړه راپورونه او مطالعې چې د بشري حقونو د شورا یا د ملګرو ملتونو د عمومي آسامبلې له خوا یې دنده او واک سپارل شوی دی)؛
- د بشري حقونو په ساحه کې د هغو افرادو او ډلو په وړاندې د تهدیدونو او غچ اخیستنو په اړه د عمومي سرمنشي کلنې راپورونه؛ او
- د عمومي سرمنشي، د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر یا د بشري حقونو د متخصصینو له خوا په عامه بیانیو کې د هیوادونو څخه غوښتنې.

دغه موندنې او وړاندیزونه کیدلای شي همدارنګه د مدافعې او لاربښونې لپاره څواکمنې وسیلې وي څو د هغو د لارې محلي فعالیتونه ملاتړ او تنظیم او ساتنه یې و شي. د بیلګې په توګه د مدني ټولنې غړي کولای شي په لاندنیو برخو کې کار وکړي:

- د مرکزي او محلي حکومتونو سره کار کول څو د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د سیستم له خوا شوي وړاندیزونه عملي شي؛
- د بشري حقونو د تجربو په اړه په هیواد کې د نړیوالو تحلیلونو او توقعاتو په برخه کې د محلي ټولنو د پوهاوي د کچې لوړول؛
- د هغو غبرګونونو او تدابیرو په اړه چې د چارواکو له خوا په مرکزي او محلي کچو نیول شوي د څارنې او ارزونې ترسره کول؛
- د مدافعې د موجودو موادو د موخهییز متن ، اغیزمنو ستراتیژیو ، او د غوره تجربو د حل لارو په وسیله د مدافعې تقویه کول؛
- د مدني ټولنې د سازمانونو او همدارنګه د عوامو په کچه د نظریو او مفکورو انسجام؛
- د همکارۍ رامنځته کول؛
- د دولتي چارواکو سره د ډیالوګ د کیفیت ښه والی؛
- د پالیسۍ په جوړولو کې ونډه؛
- د حقوقي/ جزایي دعوو تنظیمول؛
- د بشري حقونو د میکانیزمونو د تعقیبولو په طرزالعملونو کې ونډه؛
- هغو کسانو ته د تخنیکي مشاورت ارزول او برابرول څو ک چې غواړي په منفردانه توګه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو میکانیزمونو ته شکایت وړاندې کړي.

د نورو هېوادونو په اړوند د ملګرو ملتونو موندنې همدارنګه د هغو ستراتیژیو په اړه چې د عین تجربو په اړوند په نورو ځایونو کې د معلوماتو یوه غنې سرچینه ده.

## دبشري حقونو میکانیزمونه څنګه کار کوي

په عمومي صورت د بشري حقونو میکانیزمونه د بشري حقونو ستونزو ته د رسیدګۍ لپاره مشابه پروسه تعقیبوي. معلومات د بیلابیلو سرچینو څخه چې په کې د مدني ټولنې غړي شامل دي راټولیږي یا هم له هغو څخه ورته رارسیږي. دغه معلومات د سازګارۍ، اعتبار او کره والي په موخه تحلیل او بیا کتل کیږي. میکانیزم د دولت سره د معلوماتو د محتوی او ماهیت په اړه د لیکنې او یا هم مخامخ د شخص له لوري ډیالوګ پیل کوي. هغه دولت د دې لپاره چې څنګه ستونزه حل کړي وړاندیزونه کوي، او د دغو وړاندیزونو د عملي کولو په لړ کې مرسته ورکوي. لا نور معلومات د دې وروسته را ټولیږي څو د وړاندیزونو په برخه کې د پرمختګ ارزونه وشي.



د ۲۰۱۱ کال په اپریل کې د معلولیت لرونکو کسانو د استازو هسپانوي کمیټې (CERMI) غړو د معلولینو د حقونو د کمیټې (CRPD) په پنځمه غونډه کې ګډون وکړ، او د موضوعاتو د لړ لیک په چمتو کولو کې یې ونډه درلودله. هغوي یو راپور وړاندې کړ، کمیټې ته یې لنډ معلومات ورکړل او بیا یې د هغو وړاندیزونو د پلی کولو کار تعقیب کړ چې هسپانیې ته راجع و. په ځانګړې ډول CERMI یو پراخه کمپاین پرلار واچولو څو د رایې ورکولو لپاره د هغو خلکو حق تر لاسه شي چې هغه یې د معیوبیتونو د درلودلو له امله له لاسه ورکړی، دغه شان یوه حالت کې نږدې ۸۰۰۰۰ کسانو په همدغه وخت کې د رایې حق نه درلود. کمیټې وړاندیز وکړ چې ټول « قوانین باید د سره وکتل شي څو دا باوري کړي چې ټول کسان چې معلولیت/ معیوبیت لري،د هغوي د معلولیت د وخامت، د اوسیدنې د وضعیت او ځای د په پام کې نیولو پرته د رایې ورکولو حق لري» CRPD/C/ESP/CO/1, (Paragraph 48)). دغه کمیټه په قانون کې د تعدیلاتو د را وستلو د ملاتړیه موخه ګڼ نوښتونه پر لاره واچوه چې په کې « تاسو د رایې ورکولو حق لرئ، هیڅوک نه شي کولای هغه له تاسو واخلي» تر عنوان لاندې لارښود شامل و، چې موخه یې د رایې ورکولو د حق تر لاسه کول او عملي کول و. د CERMI د مدافعې په پایله کې د سترې محکمې څارنوال سیمه ییز څارنوالان دې ته را وبلل چې د معیوبیت لرونکو کسانو د رایې ورکولو د حق ساتنه وکړي. د غه کمیټه همدارنګه د حکومت او کانګرس سره د مدافعې کار ته ادامه ورکړه څو دغه قانون د CRPD د وروستنیو ملاحظاتو سره سم تعدیل کړي. یو وړاندیز شوی تعدیل د کانګرس بیلابیلو غړو او حکومت ته واستول شو.

د مدني ټولنې غړي کولای شي چې د نړیوالې ټولنې د را پورته شوي غږ څخه ګټه پورته کړي څو د خپلو ملي ستراتیژیو ملاتړ ولري او په محلي کچه خلک منسجم او دولتي چارواکي وهڅوي څو هغوي د مدني ټولنې فعالیت ته وده ورکړي او ساتنه یې وشي.

## زه څه کولای شم؟

◄ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د اسنادو څخه با خبره اوسئ او هغه د خپل هیواد په اړه سره شریک کړئ.

http://www.ohchr.org/EN/Countries?Pages?HumanRightstheWorld.aspx

◄ د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ دفتر، یا د ملګرو ملتونو د هیوادنې ټیم له نږدې دفتر سره تماس ونیسئ او ورسره د مدني ټولنې د فعالیت په لړ کې د خپلو تجربو راپور د بشري حقونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر د مدني ټولنې له څانګې **civilsociety@ohchr.org** سره شریک کړئ.

- هڅه وکړئ دا وموئ چې څنګه د بشري حقونو د بنسټونو/ کميټو په کار کې ږنده او ګډون ولرئ :

http://www.ohchr.org/Documents?Publications?NgoHandbook?ngohandbook4.pdf

- د بشرى حقونو د تړون له مخې د موقتي تدابيرو يا بيړني اقدام لپاره د مناسبو غوښتنو په شمول شکايت وړاندې کړئ:

http://www.ohchr.org/Documents/Publications/FactSheet7Rev.2.pdf

- د بشري حقونو شورا د ځانګړو طرزالعملونو متخصصينو/ځانګو ته خپل شکايت وړاندې کړئ:

http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/SP/Pages/Communications.aspx

- خپل شکايت د بشري حقونو د شورا د شکايتونو ځانګې ته وړاندې کړئ:

http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/HRC/ComplaintProcedure/Pages/HRCComplaintProcedureIndex.aspx

- د مدني ټولنې د فعاليت په اړه خپل معلومات او تجربې د بشري حقونو د شورا په غونډو کې شريکې کړئ:

http://www.ohchr.org/Documents/HRBodies/HRConcil/PracticalGuideNGO_en.pdf

- د مدني ټولنې د فضاء په اړوند خپل معلومات او تجربې ستاسې د هېواد د بشري حقونو د شورا په نړيوالې نوبتي کتنې کې شريکې کړئ:

http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/UPR/Documents/PracticalGuideCivilSociety.pdf

- د هر هغه کس او يا ډلې په وړاندې چې د ملګرو ملتونو، د هغوی د استازو او ميکانيزمونو په وړاندې د بشري حقونو په ساحه کې د غچ اخيستنو په اړه د کلنى راپور سره د ونډې اخيستنې لپاره همکاري کوي د ځورونې ، ډارونې او يا هم غچ اخيستنې د قضيو په اړه تفصيلي او کره شوي معلومات چمتو کړئ: reprisals@ohchr.org

- د ملګرو ملتونو د سرمنشي يا هم د بشري حقونو کميشنر ته په موضوعاتي راپورونو کې د شاملولو لپاره معلومات برابرکړئ.

- د ځانګړو طرزالعملونو د موضوعاتي او هېوادنيو راپورونو لپاره خپل ځانګړى نظر بيان کړئ:

http://www.ohchr.org/Documents/Publications/NgoHandbook/ngohandbook6.pdf

- د مدني ټولنې د ځانګې د بريښنا ليک په لړ ليک کې ځان شامل کړئ څو د ملګرو ملتونو دبشري حقونو د ميکانيزمونو د فعاليتونو څخه باخبره اوسئ:

http://www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages/CivilSociety.aspx

## د توقعاتو مدیریت

دولتونه د بیان، انجمنونو، د سوله ییزې غونډې او په عامه چارو کې د ګډون کولو د ازادیو د حق د ساتنې د ودې او ساتنې لپاره لومړی درجه مسوولیت لري. د مدني ټولنې فعالین د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د سیستم او نورو فعالینو سره په ګډه کولای شي د دولتونو سره د دغو مکلفیتونو د ترسره کولو په برخه کې مرسته وکړي.

د مقرراتو، یا قوانینو پر بنسټ د مدني ټولنې د فضاء په وړاندې خنډونو ته رسیدګي همدارنګه اوږد مهاله پروګرام/چوکاټ ته اړتیا لري ځو پر بدلون اغیز ولري، په داسې حال کې چې د مدني ټولنې د غړو په وړاندې هغسې کړنې لکه ځورونه، ډارونه او غچ اخیستنې چټکه توجه غواړي. دا مهمه ده چې د ملګرو ملتونو د اړونده صلاحیت یا هم موجود میکانیزم څخه د بحث وړ قضیې لپاره چې څنګه مناسبه او غوره وي کار واخیستل شي.

په هر ډول حالت کې د مثبتې پایلې لپاره د اغیز درلودلو ځواکمني یوه ډله ییزه هڅه ده او کېدلای شي چې د ګڼ شمیر فعالینو تر منځ د انسجام د لارې ترسره شي: محلي خلک، د مدني ټولنې نور غړي (محلي او نړیوال)، د بشري حقونو ملي محلي موسسې، رسنۍ، دولتي چارواکي، سیاست مداران، نور هیوادونه، سیمه ییزې او نړیوالې ټولنې.

د مدني ټولنې د غړو له خوا د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د سیستم سره ښکیلتیا د بدلون سره مرسته کوی او ورته قوت ورکوي. دا د عمومي مدافعې د ستراتیژۍ لپاره یو اغیزمن عنصر دی ځو د مدني ټولنې فضاء پراخه وساتله شي.



# 6. د سندونو ماخذونه

## د ملګرو ملتونو ماخذونه

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د پروګرام سره کار: د مدني ټولنې لپاره لارښود کتاب
http://www.ohchr.org/EN/AboutUs/CivilSociety/Documents/Handbook_en.pdf

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سپارښتنې څنګه تعقيبولای شو- د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود
http://www.ohchr.org/EN/AboutUs/CivilSociety/HowtoFollowUNHRRecommendations.pdf

د بشري حقونو د عالي کميشنر د دفتر مديريتي پلان( ۲۰۱۴-۲۰۱۷)، د دموکراتيکې فضاء د پراختيا لپاره موضوعاتي استراتيژي (مخونه۷۲-۸۳)
http://www2.ohchr.org/english/OHCHRreport2014_2017/OMP_Web_version/media/pdf/10_Democratic_space.pdf

د بشري حقونو د مدافعينو په اړه اعلاميه
http://www.ohchr.org/EN/Issues/SRHRDefenders/Pages/Declaration.aspx

د مدني ټولنې د فضاء د ملاتړ او د ترويج د اهميت په اړه د بشري حقونو د شورا د بحث لنډيز A/HRC/27/33

د بشري حقونو کميټه، ۳۴ عمومي ګڼه، ۱۹ ماده: دفکر او بيان ازادي، CCPR/C/GC/34

د انجمنونو د ازادۍ په اړوند د قوانينو ارزونه، د بشري حقونو د مدافعينو د وضعيت په اړوند د ځانګړي راپور ورکونکي راپور A/64/226

د بشري حقونو د ښځينه مدافعينې په اړه خېرنه، د بشري حقونو د مدافعينو د وضعيت په اړوند د ځانګړي راپور ورکونکي راپور A/HRC/16/44

د بشري حقونو د مدافعينو لپاره د يو مصوون او مساعد چاپيريال عناصر، د بشري حقونو د مدافعينو د وضعيت په اړوند د ځانګړي راپور ورکونکي راپور A/HRC/25/55

مالي سرچينو ته د ټولنو لاس رسی، د سوله ييزو غونډو او انجمنونو د ازادۍ د حق په اړه د ځانګړي راپور ورکونکي راپورA/HRC/23/39

د بشري حقونو په ډګرکې د ملګرو ملتونو، د هغو د استازو او ميکانيزمونو سره د همکارۍ په اړوند د عمومي سرمنشي راپوروونه،

(A/HRC/27/38, A/HRC24/29, A/HRC/2/81. A/HRC/18/19, A/HRC/14/19)

شپاړسم څپرکی، د مدني ټولنې سره ونډه درلودل او مشارکت، د بشري حقونو څخه د نظارت لپاره د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر لارښود-
http://www.ohchr.org/Documents/Publications/Chapter16-MHRM.pdf

د مدني ټولنې او نورو سرچینو څخه غوره شوي ماخذونه

د ملي قوانینو لپاره د اصولو او عناصرو چک لست (د غیر انتفاعي قانون نړیوال مرکز)
http://www.icnl.org/research/library/files/Transnational/checklisten.pdf

د پریکړې کولو په پروسه کې د مدني ټولنې د ګډون لپاره د غوره چلند نمونې، د اروپا اتحادیه
http://wwwcoe.int/t/ngo/code_good_prac_en.asp

د غچ اخیستنو په اړه لارښود کتاب( د بشري حقونو لپاره نړیوال خدمات)
http://www.ishr.ch/news/reprisals-handbook

د مساعده چاپېریال شاخص (CIVICUS)2013
http://www.civicus.org/downloads/2013EEI%20REPORT.pdf

## 7. زموږ سره اړیکی

په لاندې توګه کولای شئ د بشري حقونو دعالي کمیشنر د دفتر د مدني ټولنې له څانګې سره اړیکه ټینګه کړئ:

civilsociety@ohchr.org

تیلیفون: 9656 917 22 (0) 41+

د مدني ټولنې د بریښنا لیک سیستم د بشري حقونو د ټولو ماموریتونو او میکانیزمونو په اړه تر ټولو تازه اطلاعات او لارښوونې او همدارنګه د مالي سرچینو په اړه د غوښتنو د ضرب الاجلونو ، بلا عوضه او تحصیلي مرستو په اړوند معلومات برابروي. په دې هکله کې د غړیتوب لپاره د مدني ټولنې د انټرنیټ پاڼې ته مراجعه وکړئ:
http://www.ohchr.org/EN/AboutUs/Pages?CivilSociety.aspx



Made of paper awarded the European Union Eco-label, reg.nr FI/11/1, supplied by UPM.

د مدني ټولنې لپاره عملي لارښود

**د مدني ټولنې فضاء او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سیستم**

د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر
Palais des Nations
CH 1211 Geneva 10
Switzerland

تیلیفون: +41(0)22 917 90 00

فکس: +41(0)22 917 90 08

www.ohchr.org

د ملګرو ملتونو
د بشري حقونو
د عالي کمیشنر دفتر

ملګري ملتونه